# په ټپه کښې مذهبي رحجانات

Religious trends in "TAPA"

قاري عبدالرحمٰن
پروفيسر فيض الله پانيزی

**Abstrac** :The antiquity and classical nature of "TAPA" manifests it one of the primitive genres of Pashto folk poetry which manipulates civilization, culture, religion, and history of Pashtoons, from its debut until now.

Writers of this research paper is going to unveil the religious facets of TAPA which sketches beliefs; theosophical and religious vision of pashtoons. It not only discusses life, history and civilization of yesteryear pashtoon but also of today's mundane activities of this nation.

It is believed that "TAPA" resembles in feet and syllables to the songs of Aryan period hence researchers are of the view that "TAPA" may be the beginning of Pashto poetry and considered the oldest form of Pashto folk poetry.

Considering the lengthy period of TAPA makes it clear that the contents in it would also be rich and of assorted matters particularly religious factor which encourage the writer to explore.

## تعارف ومختصر تاريخي پس منظر:

اولسي شاعري ديوې ژبې په ادب کښې د بنياد په څېر وي هغه بنياد چې د يو قام ژبه، ادب، تاريخ، تهذيب، ثقافت او دود و دستور ئې خوندي ساتلی وي."د فولکلور اصطلاح د لومړی ځل دپاره انګليسي پوهه تامس (W.J.Thoms) له خوا په ۱۸۴۶عيسوي کال کښې استعمال شوه."(1)

ځينې محققين ليکي دا ديو فرانسيسي اولس پوهه له خوا وضع شوې کلمه ده. يعني په فرانسيسي کښې "فوك" اولس ته او "لور" پېژندنه ته وائي يعني فولکلور معنی اولس پېژندنه . اولس پېژندنه هلته کېږي چې دهغه اولس څۀ نه څۀ نخښه زمونږ په لاس کښې وي.

په لنډوټکو کښې مونږ وئيلی شو چې فولکلور ديوې ژبې هغه ګران بيه سرمايه ده چې دهغې له لارې ديو اولس تاريخي، مذهبي، ثقافتي او نور بيلابيل شناخت په اساني سره کېدای شي.په تېره بيا ټپه

چې د پښتو فولکلوريو ځانګړی وصف دی په ښه ډول دپښتون قام و د ود او دستور ته په خپله غېږ کښې ځای ورکړی دی.

په پښتو اولسي شاعرۍ کښې ټپه ته اوچت ځای ورپه برخه دی.ددې بنيادي لامل دا کېدای شي چې ټپه دنوروا ولسي اوفولکلوري اصنافوبرعکس په اساني سره جوړېدای شي .هروګړی په اساني سره خپل خيال په ټپه کښې ځايولای شي.ددې پرته دټپې دمقبوليت رازدادی چې دا په ډېر ساده او خوندور انداز کښې وي اودموضوع له لارې ډېره پراخه سينه لري.دماقبل تاريخ څخه تر نن ورځې پورې دهر دورتاريخي،مذهبي اومعاشرتي وقائع په کښې بيان شوي دي.ددې پرته دانساني رويو او ژوند بشپړه تصوير پکښې موندل کېږي.

دپښتو ادب دنورو اصنافو په څېر دټپې په حقله هم داګمان کېږي چې ډېر زوړ صنف ادب دی خو لکه څنګه چې شاعر ئې نۀ دی معلوم دغه ډول داتراوسه نۀ ده په ګوته شوې چې لومړی ټپه کله وئيل شوې ده.په دې خبره د محقيقينو اتفاق دی چې نظم تر نثرمخکښې دی.دغه ډول دپښتو ادب څېړونکي په دې نتيجه رسېدلي دي چې دپښتو ادب تر ټولو قديم صنف ټپه ده.په دې حقله پروفيسر داور خان داود ليکي:" دټپې دعمر او ابتدا په حقله تراوسه څۀ نۀ دي وئيلې شوي خوداګمان کېدای شي چې دوېد او اوستائي ژبو په وخت پښتو ژبه په خاړپوسو وه. که د پښتو ژبې دعمر په حقله داګمان درست وي نو دټپې دزوړوالي اندازه ترې لګېدی شي. په دې لحاظ دپاکستان ديوې اولسي شاعرۍ عمرهم دټپې نه زيات نۀ شي کېدای. ځکه چې دژبې دماهرينوخيال دی چې ددنيا دهرې ژبې دادب ابتدادهغې ژبې داولسي شاعرۍ څخه شوېده. په دې وجه پښتومحقيقن هم په دې نتيجه رسېدلي دي چې دپښتودشعرابتدادټپې نه شوېده.چې دپښتوداولسي شاعرۍ يوډېر کامياب،مقبول او منفرد صنف دی."(2)

دټپې په حقله دا ګمان هم کېږي چې دا په اريايي دور کښې پېل شوېده ولې ددې وزن هغه ارياي سندروته ورته دی .داورخان داود ليکي "په اولسي شاعرۍ کښې اکثر دسندرو قسمونه داسې دي چې دپښتوپه

ملــي صنفونوکښـــې دي.ددې ملـــي صـــنفونه خپـــل ملـــي اوزان دي چـــې ورتـــه ســـېلاب وئـــيلای شـــې .داکټرومحقيقينوپـــه نزدچونکـــه پښـــتون اريـــايي نســـل ســـره تعلـــق لـــري اوداريـــايي ژبوپـــه خـــوانۍ ســـندرې،نظمونه او مناجـــات دملـــي اوازونو(اوزانونـــو) پـــه بنيـــادليکلي شـــوي دي.اوس پـــه دې کښـــې دهـــيڅ شـــك وشـــبهې ګنجـــائش نشـــته چـــې پښـــتوژبې دا ملـــي اوزان دخپـــل اريـــايي خانـــدان نه اخيستي دي او دغه اوزان خپل کړي دي."(3)

نامتوفولکلورســـټ پروفيســـر محمـــد نـــواز طـــائر دټپـــې دقـــدامت پـــه حقلـــه داســـې خيـــال څرګنـــدوي،"دموضـــوعاتو دتنـــوع او دمـــاحول دهمـــه رنګـــۍ داخـــوبې پـــه ټپـــه کښـــې بعينـــه هـــم دا شـــان مونـــدی شـــي. پـــه دې وجـــه کـــه دځينـــې عالمـــانودا خيـــال وي چـــې دوېدونواصـــل دپښـــتو ټپـــې څخـــه اخيســـتی شـــوی دی نـــو داغلطـــه نـــۀ ده. خـــو بيـــاهم دا نظريـــه پـــه خپـــل موجـــوده شـــکل کښـــې تحقيق طلب ضرور ده."(4)

**په ټپوکښې د مذهبي فکر وړانګې:**

تراوسه چې دټپې په حقله څومره څېړنې شوې دي په هغو کښې دا ټپه،

ســـــپوږمۍ کړنـــــګ وهـــــه راخېـــــږه

يـــــار مـــــې دګلـــــو لـــــو کـــــوي ګـــــوتې رېبينـــــه

دې تـــه تـــر ټولـــو زړه ټپـــه وئيـــل شـــوې دي. پـــادري جنزانـــو لېډســـن پـــه لـــومړي ځـــل داخيـــال څرګنـــدکړی، چـــې دا ټپـــه داريـــايي ژونـــد عکاســـي کـــوي او ددې ټپـــې دپاره ئـې دوېدونو هغـه برخـه هـم پـه غـور لوستې وه پـه کـوم کښـې چې دهومـا يـا ســـومابوټي ذکـــر شـــوی وو. جنزانـــو لېډســـن پـــه دې نتيجـــه رســـېدلی وو چـــې دا ټپـــه پښـــتنو پېغلـــو هغـــه وخـــت وئيلـــه کـــوم وخـــت چـــې بـــه دوئ دهومـــا يـــا ســـوما بـــوټي لـــو کولـو يـا رېبلـو دپاره تلې. ددغـه بـوټي ګـلان بـه دوئ رېبـل او بيـا ئـې لـه هغـه څخـه شـــراب جـــوړول. دغـــه شـــراب ئـــې اول ديوتاګـــانو تـــه ، بيـــا برهمنـــو او بيـــا دخپلـــې قبيلې مشر ته ورکولو او وروسته به ئې خپله هم څښلو.

دجنزانـو لېډسـن دخبـرې پـه رڼـا کښـې مـونږ دا فيصـله کـولای شـو چـې کـه څـۀ هـم پـه ښـکاره پـه دې ټپـه کښـې مـذهبي رنـګ پـه نظـر نـۀ راځـي خـو ددې

بنيادي محرك هغه مذهبي رسم دی کوم چې به دوئ په شپه په هغه شپو کښې تر سره کولو کوم وخت چې به دهوما يا سوما بوټي ګلان وکړو اوبيا دوئ د ديوتاګانو اوبرهمنانو دپاره له دې څخه شراب جوړولو.

پښتانۀ په زرګونو کلونو زوړ تاريخ لري او په دې تاريخي دوره کښې دوئ کله په يو عقيده او کله په بله عقيده دژوند ورځې اوشپې تيرې کړې دي. د دوئ دعقيدې دغه بدلون مونږ ته دتاريخ او ادب له لارې په نظر راځي. په تېره بيا په ټپه کښې دبېلا بېلو وختونو انځورګري پرته ښکاري. چې يوه په کښې دلمرپرستۍ عقيده ده.يعني چې کوم وخت پښتنو لمر خپل معبود ګڼلو او دلمر سره ئې خپل عقيدت په ټپوکښې هم وړاندې کړې دی او پښتانۀ نن هم دماځيګر وخت ډېر مقدس ګڼي او په اور کښې تُوکل نه خوښوي لکه پروفيسر داورخان داود چې اشاره ورته کړېده. دادلمر سره عقيدت او اور ته دقدر په سترګه کتل د زرتشتي عقيدې څخه وتلي رسمونه معلومېږي.

ماښام دې ښورې مه کړه
ته به دنازښورې کوې رښتيا به شينه (5)

دماښام زړېږه لمره
ته لاولاړ ئې په ماپرېوتل غمونه

ماښام دې سوال قبلېږي
خلقه زما په حق کښې پورته کړئ لاسونه (6)

په ټپه کښې عموماً تصوفي افکارډېر کم په نظر راځي خو داسې نه چې له سره نشته. ځينې ځايو کښې دتصوف د خاص مقاماتو يا حالاتو ذکر هم شوی دی چې پر يومريد په بېلا بېلو وختو تېرېږي يا يو مريد ئې پر قدم قدم مشاهده کوي. په ځينې ټپو کښې دذکر خبره راوړال شوېده چې و مريدانو ته د مرشد له خوا ورکول کېږي.

حسن يو نور د حيرانۍ دی
زۀ په مجاز کښې حقيقت له ره ورځمه (7)

ذکــر او فکــر دزړۀ یــو کــړه
چـــې د ې دنیـــا اخـــرت دواړه نصـــیب شـــینه
څــوك چــې پــه صــدق مســلمان وي
پـــه اشـــارو داســـمان لمـــر راکوزوینـــه (8)

دااخـري ټپـه پـه اساسـي توګـه داخـلاص پـه حقلـه وئیـل شـوېده یعنـي چـې څـوك څـومره پـه اخـلاص وي هغـومره بـه ئـې داﷲ پـه دربـار کښـې فضـیلت زیـات وي لکـه درحمـان بابـا پـه شـاعرۍ کښـې هـم دې تـه اشـاره شوېده.

چـې پـه یـو قـدم ترعرشـه پـورې رسـي
مالیــــــدلی دی رفتـــــار ددرویشــــــانو
ذکـــر کـــوه خـــدای خوشـــالېږي
زړۀ دشـــیطان وربانـــدې ټـــك لـــه غمـــه چـــو ینـــه (9)

پښـتانۀ وپیـراو عـالم تـه ډېـر دعـزت پـه سـترګه ګوري.خپـل دغـه کیفیـت ئې په ټپه کښې ډېرپه خوندبیان کړی دی.

دپیـــــر باباپـــــه دروازو کښـــــې
پــروت پــه ایروکښــې ځــان پــه تخـت حسـابومه (10)
خالقـــه تـــه مـــې ورتـــه بـــوځې
چـــې جـــاروکښ دپېغمبـــر دروزې شـــمه (11)

پـه پښـتني ټولنـه کښـې بالخصـوص هغـه سـیمې چـې دعلـم رڼانـۀوي ور رسـېدلې ، دشـرك اوبـد اعتقـادۍ پـه نـاوړه رسـومو لړلـي دي.ددې بنیـادي لامـل خودجهــل تیــارې دي.ددې پرتــه پــه پښــتني ټولنــه کښــې ځینــې خلــق د پیــرۍ اومریـدۍ پـه بڼـه کښـې دپیسـو ګټلودپـاره خلق داسـې مسـخر کـړي دي چـې پیـر څۀ وئیـل هغـه هرڅۀ دسر پـه سـترګو قبلـوي او وپیـر تـه ئـې نعوذوبـاﷲ ترخدای او رسـول غټـه مرتبـه ورکـړې وي اودلیـل ئـې داوي چـې بغیـر واسـطې څـوك تـر

خدايـه ،تررسـوله نـۀ شـي رسـېدلای.که يومصـيبت بانـدې راشـي نـووائي" پلانـی پيره راورسېږه" . په تپه کښې هم دامقام څرګند دی.

راورســــــېږې خپلـــــــه پيـــــــره
بېــــرۍ شـــوه ډوبــــه پــــه تختـــو ولاړه يمـــه (12)

دا سراسـر شـرك دی ولـې دا د خـدای صـفت دی چـې هرځـائ حاضـر وي نـۀ د بنـده. دخوښـۍ خبـره ده چـې علمـاکرامواو پـوه خلقـو ددې نـاوړه دود هروخـت غندنـه کړېـده اودمخنيـوي دپـاره ئـې هڅـې کـړې دي . ددې علمـاوو دغـه نصـيحت اوتبليـغ پـه برکـت سـره ځينـې عـام وګـړو تـه هـم احسـاس شـوی وي اوهغه ئې په دي ډول څرګندوي.

اســــره دپـــــاك الله پــــه کـــــار ده
څــوك چـــې دنـــورو اســـرې کـــړي پښـــېمانه شـــينه (13)
اســـره مـــې تـــۀ شـــه خپلـــه خدايـــه
د بنـــــــدګانو دزړۀ څـــــــــۀ پروالرمـــــــــه (14)
پــه نصــيب کښــلي بــه وران نــۀ شــي
کــــه پيــــدا شـــوي بزرګـــــان واړه اوغواړمــــه (15)

پښـتنو زيـاتره پـه غروکښـې اسـتوګنه کړېـده .اولسـي سـندرې يـا فولکلـور هـم پـه دغـه غرنـۍ سيمو کښـې زېـږل کېـږي او دبدقسـمتۍ څخـه دغـه سـيمې پـه تـاريخي توګـه دجنګـو ميدانونـه جـوړ شـوي دي اونـن هـم دي، پـه دې پـر مـخ تللي وخت کښـې د دوئ بې تعليمـه پاتـه کېدل څۀ عجبـه خبـره نۀ ده.چېرې چې دتعليم رڼـا نـۀ وي دهغـه ځـائ انسـانان ډېـر سـاده او سـپيڅلي وي اوهـر کلـه دقـام يـا دمـذهب پـه پـوښ کښـې دوکـه ورکـول کېـږي چـې عکـس ئـې پـه اولسـي ملغلروکښـې لـه ورايـه ښـکاره کېـږي. پـه ټپوکښـې ځينـې ټپـې داسـې هـم شـته چې ددې قام ضعيف الاعتقادي باندې روڼ دليل دي.

مـــادې پېـــزوان اخيســـتی نـــۀ دی
پـــه پيـــر بابـــا بـــه درتـــه وخـــورم ســـوګندونه (16)

دپيـر يامرشـد څخـه ئـې خـالق کـن فيکـون جـوړکړی دی‌او دپيـر پـه سـر قسـمونه خـوري.د دوئ پـه خيـال چې پيـر وغـواړي هـر څـۀ کـولای شـي ولـې دوئ دخـدای نـازولي ګڼي.داخوصـحيح خبـره ده چـې د ځينـې عالمـانو او رسـېدلو خلقـو نـاز خـدای اخلـي يعنـي دعااوښـيرايې الله پـاك نـۀ ردکـوي خونۀ دغيـب علـم ورکـوي اونـۀ داضـروري ده چـې هـر سـوال هـره دعـا بـه ئـې قبلېږي.پـه غيبـو پيغمبـران نـۀ وي خبـر. ددې پرتـه اصـلي او جعلـي مرشـد معلومـول هـم ډېـر ګـران دي. نالوسـتي خلـق خوداسـې وي لکـه کوشـنيان چـې ځنګـه تعلـيم ورکـوې دهغـه مطـابق عمـل کوي.ځکـه يوبلـه ټپـه کښـې دا رويـه داسې غبرګه کړېده.

پـــه کړېـــدو مـــې رب راضـــي دی
ځکـــه مـــې نـــۀ قبلـــوي بهـــادر بابـــا ســـوالونه (17)

دغــه غلــه او جعلــي پيــران چــې نــۀ يــواځې خلــق شــکوي بلکــې لــه ايمانوڅخـه ئـې هـم خلاصـوي .ګمـراه عقيـدې خـوروي او دټـولنې دپـاره دوئ اوددوئ پلويـان يـو ناسـور جـوړ شـي. دټـولنې داصـلاح پـر ځـای دټـولنې د ورانـۍ سـبب جـوړ شـي. د دوئ دکاروبـار يـوه لويـه ذريعـه تـاويز کـول وي او دتـاويز دشـکرانې پـه نامـه لـه خلقـو څخـه روپـۍ اخلـي. دتـاويزانو ئـې هـم فوټوکـاپۍ کـړې وي او دوئ تـه يـو ورکـوي. دتـاويزانو پـه پيسـو ئـې پـه اېکـړو مځکـې او ګـران بيـه مځکـې ئـې اخيسـتې وي. زمـونږ پـه سـيمه سـهيلي پښـتونخواه کښـې ډېـر کـم پيـران او داالله پـاك حقيقـي وليـان مـا تـه معلـوم دي چـې هغـه د دولـت او شـهرت څخـه ليـرې ګرځـي. شـپه او ورځ دخلقـو اصـلاح کول او ديني درس ورکول ئې وظيفه ده.

بابـــا مـــې نـــۀ درکـــوي يـــاره
ورشـــه بابـــا بانـــدې مـــې وکـــړه تاويزونـــه (18)

جانان په هېڅ نه رضا کېږي
ددروغجن ملا دې ورك شي تاويزونه (19)
په دعاګانو مې زړۀ شين شو
اوس جادوګر لره ورځم کوډې کومه (20)

پښتون قام اومسلماني بيشکه سره لازم اوملزوم دي.په دې قام کښې خدای جذبه اېښېده .دغيرته ډك اومېړنی قام دی. پوهان وايي دغرنی سيمې خلق خواري کښ او کلك وي. زما مطلب هغه پښتانۀ دي چې تر اوسه لاښاري ژوند سره بلد نۀ دي. نن هم ډېر ساده اود خوارۍ ژوندکوي.څنګه چې ما ذکر وکړی دناپوهۍ له وجې ځان اوقام تباه کړي.په پېړيو پېړيو دقام يا ددين پر نامه جنګېږي لېکن په دانۀ وي خبر چې اصل حقيقت څۀ دی. زه دڅۀ دپاره يا دچا دپاره جنګېږم . بحثيت مسلمان جهاد پر هرچا فرض دی او دجهاد څخه انکار کفر دی ولي دا په قراني اياتو ثابت دی. په قران او احاديثو کښې ډېر لوړه مرتبه ورکړل شوې ده او دبدۍ او فساد دمخ نيوي دپاره ضروري دی. ليکن دومره کتل او معلومول ضروري دی چې جهاد يا غزا په کومو حالاتو کښې، تر کوم بېرغ لاندې او په کوم پوښ کښې بايد وي؟ امير ئې بايد څوك وي ؟ او ددې جهاد په حقله د علماء حق څۀ رايه ده؟ .داسې خوبه نۀ وي چې د قام پرست يا مذهبي مشرانو خپل بچيان په ښو ادارو کښې سبق وايي ليکن د غريبانو او ناپوه خلقو بچيان ديو نامعلوم مقصد دپاره استعمالوي.

دايوتريخ حقيقت دی چې دژبوادبياتو لويه برخه د دربار تر سايه لاندې پلورل شوي وي. د پښتو ادب هم پاك نۀ شوځينې ګڼلای خو پر ټپه دغه ټپه تر اوسه نۀ ده لګېدلي ليکن په ټپه کښې دمذکوره موضوع حوصله افزاي په دې نۀ ده چې ټپه هم له درباره يا ددربار سره دتړلوخلقو په مرضۍ شوېده بلکه ټپه فی البديهه وئيل شوې دهغه پښتنو ورڼودزړۀ

چغـه ده چـې پـه ډېـر اخـلاص اوددیـن مبـین سـره دزښـتې زیـاتې مینـې پـه صورت کښې وئیلې ده.

لنډه داچـې پـه ټپوکښـې هـم جهـادي رنـګ یـا دقـام پـر سـر جنګېـدلو والا ستاینه ډېره شوېده چې ځینې مثالونه لاندې وړاندې شوي دي.

تـهٔ چـې زمـا غېـږ کښـې رپېـږې
هلتـه بـه څـهٔ کـړې چـې شـرنګار دتـورو وینـه (21)

ټکـړې ټکـړې مـې ورتـه يـو سـئ
کـه زهٔ شـهيد يـم چـې و نـهٔ کـړئ فریادونـه (22)

ژونـد دغـازي لکـه دلمـر دی
مـرګ دشـهيد چـې پـه جهـان فکـر کوینـه (23)

لالیـه څـه چـې ځـو غـزا لـه
چـې د وطـن پـه خـاوره وکـړو غېرتونـه (24)

نغـاره وشـوه غازیـان درومـي
پـه وطـن جنـګ دی لالـی نـهٔ منـع کومـه (25)

بـابو ټکـټ پـه تلـوار راکـړه
پـه مصـر جنـګ دی مجاهـد بـه ورلـه ځمـه (26)

پښـتون پـه سـرد دنيـا شـته دی
هنـدو بـه څنګـه پـه کشـمير نـور اوکـړي ظلمونـه (27)

پـه الله پـاك زمـا بـاور دی
ځکـه پـه تـش لاس د کشـمير غـزا لـه ځمـه (28)

ادب دنظریـاتو دپرچـار کولـو یـوه غـوره لار ده.ادب کـه دهـرې ژبـې وي پـه هغـه کښـې دهغـه قـام نظریـات ،ژوند او ناسته پاسته بـه لـه ورایـه ښـکاره وي .پـه اولسـي ادب کښـې دا حقیقـت تـه ورنـزدې وي یعنـي چـې دعوامـو څـهٔ خیال یا نظر وي هغه په اولسي ادب کښې موندل کېږي.

عاقلـه فکـر ورتـه وکـړه

څـــه تـــه پيـــدايې ،کـــوې څـــه رنګـــې کارونـــه (29)

عمـــــل وســـــله دلارې مـــــل کــــړه

ســــــتا دي پــــــه ســـــختو ســـــختولارو مزلونــــــه

بــــې لمانځــــه ګــــور دي ځــــان تــــه اور کــــړو

دلتــــه پالنــــګ کښــــې تــــر غرمــــې کــــوې خوبونــــه (30)

اســــلام کشــــتۍ کفــــر دريــــاب دی

شــــيطان نهنــــګ دی عالمونــــه غرقوينــــه (31)

نافرمـــــاني د ربـــــه مـــــه کـــــړه

شــــيطان تــــرې وکــــړه همېشــــه ټکــــرې خورينــــه (32)

پــــه شــــرع ټينــــګ دپــــاك حضــــرت شــــه

ورځ د محشــــر شــــته شــــفاعت بــــه دې کوينــــه (33)

دا ټپــې تبليغـاتي رنـګ لـري.دې څخـه مـونږ تـه دا خبـره پـه ډاګـه کېـږي چـې ټپـه يووخـت د ادب تـر هـر صـنف زياتـه وئيـل کېـده او ددې دايـره دومـره پراخـه وه چـې شـايد پـه ټولـه پښـتونخواه کښـې پـه شروشـور وئيـل کېده.ځکـه خومـونږ تـه پـه ټپـه کښـې هـر ډول خيـال پـه نظـر راځـي چـې ددې خبـري ثبـوت دی چې "ددين" او "ليلی" دواړه مينانو برخه په کښې اخيستې ده.

دنـړۍ ټـول وګـړي پـه يـوه يابلـه عقيـده دژونـد ورځـي او شـپې صـباکوي.څوك دالله دذات قائلـه او څـوك ئـې بېخـې نـۀ منـي او څـوك مـاده پرست يـا پـه بلـه عقيـده دي. دغـه ډول کـوم انسـانان چـې دالله پـر ذات يقـين لـري پـه هغوکښـې هـم ډېرديـل بيـل فکـر خاونـدان دي. حتـی چـې اسـلام تـه راشـو نـو پـه مقـدس ديـن اسـلام کښـې چـې الله پـاك ئـې پـه خپلـه پـه قـران کښـې سـتاينه کـړې ده ، ډېـرې فرقـې پـه نظـر راځـي اوځينـې پـه دوئ کښـې ډېـر دغلطـې عقيدې لرونکي هم شته چې دالله دکتاب په اياتو ثابته عقيده نه مني.

دداسـې عقائـدو څخـه يـوه دختـم نبـوت وعقيـده ده چـې پـه ټپـه کښـې اشـاره ورتـه شـوېده.دنبي صـلی الله عليـه وسـلم پـس بـل نبـی نـۀ راځـي. د دۀ پـس د

نبـوت دروازه بنـده شـوه .پـه خپلـه پـه حـديث مبـارك کښـې دي ،نبـي صـلی الله عليه وسلم فرمايي: ترجمه: زۀ اخري نبي يم زما وروسته بل نبي نشته .
لکه په دې ټپه کښې چې اشاره ورته شوېده.

پـــــاك محمـــــد اول اخـــــر دی
صـــديق اکبـــر ئـــې اول يـــار نيـــولی وونـــه (34)

پـه لـوړه ټپـه کښـې وخـتم نبـوت تـه اشـاره شـوېده چـې حضـرت محمـد صلی الله عليه وسلم اولين واخيرين دی.
داهـم پـه مسـلمانانو کښـې اختلافـي مسـله ده. چـې ځينـې د وسـيلې قائلـه او ځينې ئې نـۀ دي قائلـه . پـه ټپـه کښـې دوسيلې يـو پلـوي خپلـه عقيـده داسي وړاندې کړې ده.

الله بادشـــــاه رســـــول وزيـــــر دی
زۀ درســـول پـــه وســـيله بادشـــاه لـــه ځمـــه (35)
الله مالـــــك دخيـــــر اوشـــــر دی
چـــې دمخلوقـــه تمـــه کـــړې خـــراب بـــه شـــينه (36)

پـه ځينـو ټپـو کښـې عمومـاً دخپـل مـذهب يـا ديـن ښـيګړې وړانـدې کـړې وي يـا ئـې پـه فخريـه انـدازدخپل مـذهب تعريـف کـړی وي او دبـل پـر مـذهب ئـې تنقيـد کـړی وي يعنـي دبـل مـذهب څخـه ئـې دبـې زارۍ اظهـار کړی وي.

چـــې عاشـــقي ئـــې کـــړې نـــۀ وي
لکـــه هنـــدو بـــې کليمـــې دوزخ تـــه ځينـــه (37)

پـه ورکـړل شـوې ټپـه کښـې پـه هنـدو مـذهب اشـاره تنقيـد کـړی دی چـی پـه اخـرت کښـې بـه بـې برخـې پاتـه وي ولـې پـه دې دنيـا ئـې حق تـه غـاړه نـۀ ده ايښـې او اسـلام ئـې نـه دی قبـول کړی.خـو ددې ټپـې اصـل اشـاره هغـه محبـت تـه ده کـوم چـې علمـاء ، صـوفيـاء کـرام او نـور دالله او دالله درسـول سـره کـوي

. دکـوم پـه بدلـه کښـې بـه الله پـاك دوئ پـه هغـه جهـان دنـورو انسـانانو پـه مقابله کښې ډېر ونازوي.

دادب اومـذهب دواړو اساسـي پيغـام پـه نـرۍ دامـن خـورول وي . دوروګلـوۍ او مينـي ډك ژونـد تېرولـو درس ورکوي.پښـتانه هـم پـه دې ويـاړي چـې دبـل ومـذهب او عقيـده تـه پـه سـپکه سترګه نـه وګـوري . کـه ئـې فکـري اخـتلاف ورسـره هـم وي خـو دبـل دعقيـدې او دهغـې عقيـدې دپلويـانو دل ازاري کلـه هـم نـه خوښـوي. دپښـتون قـام دغـه دامـن ،وروزګلـوۍ او مينـي پيغـام پـه ټـپه کښـې هـم وهـر اولـس تـه ورکـول شـوی دی او لـه نـورو اقوامـو هـم دغـه اميـد لـري چې ددوئ عقيده او مذهب ته دي په درنه سترګه وکتل شي.

يـــارمي هنـــدو زۀ مســـلمان يـــم

لـــه کليمـــې ســـره رام رام هـــم يادومـــه

بل ځای داسې راځي :

يـــار مـــي هنـــدو زۀ مســـلمان يـــم

ديـــار دپـــاره درمســـال جاروکومـــه

دايو حقيقت دی چې دنيا ديوځو ورځو ځائ دی. تل تر تله هېڅوك نۀ شي پاته کېدای .اخر به دغه دنيا ورانېږي او په دې دنيا کښې چې هر چاځۀ کړي وي دهغه حساب به ورکوي.خوافسوس ددې مطلب دا اخيستل شوی دی چې دنيا او ددنيا کاروبار هېڅ معنی نۀ لري.باوجود ددې چې نبي صلی الله عليه وسلم او دهغه اصحابو ددنيا کاروبارو نۀ کړي دي.رهبانيت ئې دغه ته وئيلی دی،چې د دنيا يي کارونو لاس واخلي او دټولنې څخه بېل ژوند کوي.

زما په خيال دغه خيال دعجمي تصوف له لارې مونږ ته رارسېدلی دی. ولي زمونږ په سيمه کښې دتيارې کاسې والااو کاروباريانو پيرانو وساده پښتنو ته دغه تر ټولو لوئ دثواب کار وئيلی دی، څوك چې د دوئ خدمت کوي.

ددنيـــا څـــوورځي ژونـــدون دی

کــــم عقـــل خلـــق پـــرې مـــانۍ اباد وينـــــه (28)
اخــــر دې تــــګ د بـــــل وطـــــن دی
دلتـــه کښـــې څـــۀ لـــه جـــوړوې د نـــګ محلونـــه (39)

د دې پرته، په دنيايي ژوند کښې هم دومره چوغېدل نۀ دي په کار چې په ټول ژوند کښې د دين دپاره هېڅ نۀ وکړي او په دنيايي کارو کولو کښې ژوند پر تېر شي.

کبـــر غـــرور پـــه ځـــواني مـــه کـــړه
ځـــواني دژمـــي مـــاځيګر دی تېـــر بـــه شـــينه (40)

دا روايت که اوس په پښتو شعر او شاعري کښې څۀ کم شوی دی خو بيا هم ډېر کم داسې پښتو ديوانونه به په نظر راشي چې په پېل کښې حمد نۀ وي ورکړی. دغه دپښتنو ليکوالانو او پښتني ټولني په اجتماعي توګه عکا سي کوي.دغه خيال په ټپه کښې هم خور دی.

کـــه تمـــام عمـــر عبـــادت کـــړي
ســـتا د احســـان اجـــر بـــه څنګـــه ادا کړينـــه (41)
پروردګـــــــار غنـــــــي باچـــــا دی
مـــچ او انســـان لـــه روزي يـــو شـــان ورکوينـــه (42)
نفـــس وشـــيطان مـــې دشـــمنان دي
ربـــه زۀ ســـتا د فضـــل ډېـــر اميـــد لرمـــه (43)

د حمد په ټپو په ډول نعتيه ټپې هم وئيل شوي دي چې دنبي کريمﷺ تعريف په کښې بيان کړی دی او دنبي کريمﷺ سره دميني او محبت اظهار کړی دی.

ســـتا په روضـــه مـــې ځـــان داخـــل کـــړه
يـــا مې حـــلال کـــړه يـــا مـــې ســـر کـــړه حاجتونـــه (44)

ســــتاپه کتـــو خـــاورې زر کېـــږي
کـــه راتـــه اوګـــورې د ســـرو زرو بـــه شـــمه (45)

په شعر یانثر کښې دماضي یوې خاص واقعې ته اشاره وشي، تلمیح ورته وائي. په ټپوکښې هم تلمیحات ډېر راوړل شوي دي.دې ته مذهبي تلمیحات وئیلای شو.دا ځان ته یوه پراخه موضوع ده. دلته ئې مثال راوړم.

حضـــرت پـــه کـــور دننـــه ناســـت وو
چـــې جبرائیــــل پـــرې دمعــــراج زری کوینــــه (46)
لکــــه منصــــور پــــه ســــرد دار وی
رانــــه جــــدا دمینــــې یــــار نــــۀ وی مینــــه (47)

پــه ادب کښــې لــوظ یــا وعــده هــم داهمیــت وړ موضــوع ده. بــه ټپــه کښــې هــم پــر وعــده کولــو ډېــر زور اچــول شــوی دی.هســې خــو پــه پښــتنو کښــې وعــده پالــل د ســړیتوب نخښــه ده او بــې لوظــه ســړی بــې پتــه او بــې اعتبــاره ګڼــل کېږي.ولــي پښــتوکه یوخــوا د ژبــې نــو م دی بلــې خواتــه دا دلــوظ پــه معنــی کښــې هــم کــارول کېږي.لکــه چــې وائــي، فلانــي ســړي پښــتو کــړې ده یعني وعده ئې کړې ده.

چـــې پښـــتو وائـــي پښـــتو نـــۀ کـــړي
ژبـــه تـــري پـــرې کـــړئ چـــې پښـــتو پـــرې نـــۀ وائینـــه (48)

پــه لــوړه ټپــه کښــې درې ځایــه پښــتو کلمــه کــارول شــوې ده. اول او اخــر د ژبــي پــه معنیــاودمینځ کلمــه دلــوظ یــا دلــوظ تــر ســره رســولو دپــاره کــارول شــوې ده. مطلــب دا کــه لــوظ پــوره کــولای نــۀ شــي پــه کــار ده چــې پښــتو وئیــل هــم پرېــږدي یعنــي پښــتو او دلــوظ پابنــدي ســره لازم او ملــزوم دی. دا دسیالۍ او دروند والي نخښه هم ده.

پښتو یا پښتو کولو ته په ټولنه کښې دیوغیر تحریري ائین حیثیت ورحاصل دی. چې له هغه څخه د سرغړونې والاته بې پته او بې عزته وئیل کېږي. حمزه باباوايي:

په پښتانهٔ کښې بې لوظي د بې پتی نخښه ده
قاصده داسې ورته وایه که دې بیاولیدو

دغه ډول په حدیث مبارکه کښې هم د وعدې پوره کولو باندې زوراچول شوی دی او دوعدې نه پوره کولووالا ته منافق وئیل شوي دي.

چې لوظ وکړي بیائې مات کړي
ژبه تري پرې کړئ چې بیا نهٔ وکړي لوظونه (49)

تقدیر چې دمسلمان دایمان جزدی خوعلماء امت ددې ډول ډول تشریح کړې ده او په تصوف کښې هم بیل تعریف او حدود ورله ټاکلي دي. خو په دې نازکه او پېچلې مسله ځان پوهه کولو دپاره دحضرت علي رضي الله عنه هغه وضاحت ضروري ګڼم کوم چې ئې دتقدیر په حقله کړی دی. مفهوم ئې داسې دی چې یوه ورځ یو سړي دحضرت علي رضي الله عنه څخه چا پوښتنه وکړه چې انسان په اعمالوکولو کښې څومره اختیار لري . دهٔ په جواب کښې ورته ووئیل چې یوه پښه پورته کړه. هغه چې پورته کړه دهٔ ورته ووئیل دابله پښه هم پورته کړه. هغه ورته ووئیل دا نهٔ شم پورته کولای. حضرت علي رضي الله عنه ورته ووئیل مونږ په اعمال کولو کښې دومره اختیار لرو.
دښهٔ کار کولو لاړ غوره کړي .خپل وس وکړي نور ئې پر الله پاك وسپاري.

پرېږده چې اوس څنګه تېرېږي
چابدل کړي دي لیکلي تقدیرونه (50)

چې خدای کوي هغه به وشي
بد بخته مه شکوه تهی په زیارتونه (51)

خالق تعالی به تري خبروي
چې دازل په تخته څهٔ لیکلي دینه (52)

ماپـــــه تـــــدبير بـــــايللې نـــــۀ ده

تقـــدير مــــې وران کــــړل د تــــدبير کـــړي کارونـــه (53)

نصــــيب تقـــــدير تــــــه ګنـــــاه نشـــــته

بخـــت چـــې کوتـــه شـــي باچهـــان تـکـــرې خورينـــه (54)

هرڅـــــۀ پـــــه بخــــت کيــــږي جانانـــــه

بخـــت چـــې کوتـــه شـــي عقـــل هـــم کـــډه کوينـــه (55)

پـه قــرآن او حــديث ثابتـه ده چــې دنيــا او د دنيــا ټــول روزګــار عارضـــي دی. داخـــرت ژونـــد ابـــدي دی. دغـــه ډول دانســـان احساســـات او جـــذبات، خوابـــدي او خوشـــحالي، نيســـتي او هســـتي، پـــوهي او نـــاپوهي ، محبـت اونفـرت ټـول دالله مخلوقـات دي او دالله پـاك پـه اراده چلېـږي. دغـه ډول عشـق،محبت يـا مينـه هـم دالله لـه مخلوقـاتو څخـه دي. پـه ټپـو کښـې دحقيقـي مينـې او محبـت ټپـې ډېـرې پـه زياتـه شـمېره وئيـل شـوې دي چـې دسـپين زړګيـو او سـاده پښـتنو دالله پـاك او دالله درسـول او ديـن مبـين سـره محبـت پـه ګوتـه کـوي او نـورو انسـانانو تـه هـم دحقيقـي او نـۀ ختمېـدونکې مينې دعوت ورکوي.

ثـــــاني ديـــــار دحســـــن نشـــــته

څکـــــه الله ئـــــې کـــــړي پـــــه خپلـــــه صـــــفتونه (56)

مينـــــه دخـــــداى او رســـــول ښـــــه ده

دا نـــــورې مينـــــې بـــــې وفـــــا پاتـــــه بـــــه شـــــينه

غـرض دا چـې ټپـه څـومره اوږد عمـر لـري هغـومرې پراخـه لمـن لـري.د ژونـد داسـې اړخ نشـته چـې ټپـه کښـې نـۀ وي راوړل شـوې. بـې انتهـا زيـات لچـك او کشـش لـري. د روزمـره ژونـد څخـه ونيسـې تـر لويـو لويـو تـاريخي واقعـاتو دټپـې پـه دوو مصـرعو کښـې بيـان شـوى وي. د انسـان وبـې وسـۍ او زوراو زياتي ته ئې اشاره کړېده.

هنـــدوان دغـــوا وو غوښـــې نـــۀ خـــوري
مســـلمانان دخپلـــو ورڼـــو غوښـــې خورينـــه (57)

اخـــر بـــه خـــاورې شـــې بدنـــه
ډېـــر پـــه غـــرور اوکبـــر مـــه ږده قدمونـــه (58)

نـــاروا مـــه کـــړه مســـلمانه
الله ديـــوې يـــوې ذرې حســـاب کوينـــه (59)

**محاصل**:

دټپــې پــه تــاريخي پــس منظراوارتقــائي ســفر کــه غــور وکــړو نــو دا خبـره څينـې جـوتېږي چـې ټپـه داريـائي دورڅخـه تـر اوسـه پـورې دهـر دور بيـل بيل تاريخ واضح کوي.

ســـپوږمۍ کړنـــګ وهـــه راخېـــږه
يـــار مـــې دګلـــو لوکـــوي ګـــوتي رېبينـــه

دمـــائيګر زړيـــه لمـــره
تـــه لاولاړ ئـــې پـــه مـــا پرېوتـــل غمونـــه

کـــه دخـــالو لښـــکرې راغلـــې
زۀ بـــه ګومـــل تـــه دخپـــل يـــار ديـــدن تـــه ځمـــه

کــه پــه مېونــد کښــې شــهيد نــۀ شــوې
خـــداې ګولاليـــه بـــې ننګـــۍ لـــه دې ســـاتينه

داهـره ټپـه د يـو بيـل دور نشـاندهي کـوي .دپښـتنو اريـائي دو،او هغـه دور کـوم وخـت چـې دوئ دبدهـ مـت پېروکـاران وو، د محمـود غزنـوي دور، بيـا دروښـانيان يـا مغلـو دوراودمېونـد غـزا تـاريخ ټپـې خونـدي سـاتلې دي.خويـواځي تـاريخ نـه بلکـې د مـذهب او روحانيـت پلـو ئـې هـم ټينـګ نيـولی دی.پـه دې مقالـه کښـې د مـذهب او مـذهب سـره تړلـي ټـول جزئيـات لکـه تصـوفي،اخلاقي، ضـعيف الاعتقـادي، شـرکيه، موحدانـه، جهـادي،

تبليغـــاتي، د عقائـــدو يـــا مســـلکي ټپـــې، فخريـــه مـــذهبي، دمـــذهبي رواداری، حمديـــه، نعتيـــه، دمـــذهبي تلميحـــاتو ټپـــې، اصـــلاحي، دعائيـــه ، دکوډو ياتاويزانو اوپير پرستۍ وغيره ټپې کښې راوړل شوي دي.

❁❁❁

# حوالې

(1) دوست ،دوست محمد ،دپښتو داولسي ادب لارې ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۶، مخ الف .
(2) داود ، داورخان، پښتو ټپه،چاپ اپریل ۱۹۹۵ ،پښتو اکېډمي پېښوريونيورسټي، مخ ۳۶
(3) ايضاًمخ ۴۰
(4) تاتره،مديراعلی محمداعظم خان،مدير عنايت الله ضياء، پښتو ادبي بورډ پيښور،جولائي تا ستمبر۲۰۰۸، مخ 6
(5) ايضاً، مخ ۸
(6) ايضاً، مخ ۹
(7) غريب يار،سيداګل ،مولف،اولسي ملغلرې، مخ ۵۱
(8) شاهين ،سلمیٰ، مولفه، روهي سندرې، مخ ۲۲۳
(9) غريب يار، سيدا ګل، مخ ۶۸
(10) شاهين، سلمیٰ، مخ ۲۹۹
(11) غريب يار، سيدا ګل، مخ ۶۸
(12) ايضاً، مخ۶۹
(13) شاهين، سلمیٰ، مخ۶۷
(14) ايضاً، مخ ۶۷
(15) ايضاً، مخ ۱۵۲
(16) ايضاً، مخ ۵۸۶
(17) ايضاً، مخ ۱۴۱
(18) غريب يار، سيدا ګل، مخ ۸
(19) ايضاً، مخ ۳۲
(20) شاهين، سلمیٰ، مخ ۱۲۸
(21) غريب يار، سيداګل، مخ ۲۴

(22) غريب يار، سيداګل، مخ ۲۶
(23) غريب يار، سيداګل،مخ ۷۷
(24) شاهين، سلمٰی، مخ ۵۷۳
(25) عالم،جهان، ټپه او صنعتونه ، محمد زبير حسرت، چاپ مئ ۲۰۰۳، مخ ۴۲
(26) شاهين ،سلمٰی،مخ ۸۰
(27) ايضاً، مخ ۱۱۴
(28) ايضاً، مخ ۱۱۹
(29) غريب يار ،سيداګل،مخ ۱۰۴
(30) شاهين ،سلمٰی،مخ ۱۰۵
(31) ايضاً، مخ ۶۸
(32) ايضاً، مخ ۶۱۴
(33) ايضاً، مخ ۱۳۷
(34) ايضاً، مخ ۱۰۸
(35) ايضاً، مخ ۷۵
(36) غريب يار،سيداګل،مخ ۵
(37) ايضاً، مخ ۴۴
(38) ايضاً، مخ ۶۲
(39) شاهين ،سلمٰی، مخ ۶۱۴
(40) داود ، داورخان، مخ ۵۴
(41) ايضاً، مخ ۴۰
(42) ايضاً، مخ ۷۷
(43) شاهين، سلمٰی، مخ ۶۱۷
(44) داود ، داورخان، مخ ۷۸
(45) ايضاً، مخ ۷۹
(46) غريب يار،سيداګل،مخ ۵۲
(47) غريب يار ،سيداګل،مخ ۱۲۰

(48) شاهین، سلمٰی، مخ ۲۱۰
(49) ایضاً، مخ ۲۲۳
(50) غریب یار، سیدا ګل،مخ ۱۶
(51) ایضاً، مخ ۴۳
(52) ایضاً، مخ ۵۶
(53) ایضاً، مخ ۱۳۰
(54) ایضاً، مخ ۱۳۷
(55) ایضاً، مخ ۱۴۳
(56) ایضاً، مخ ۳۰
(57) عالم،جهان،ټپه او صنعتونه ، مخ ۴۰
(58) داود ، داورخان، مخ ۸۷
(59) ایضاً، مخ ۸۸